
Ketabton.com
ورکوټی
خان
"طنزونه او د ویډیوګانو سکریپټ"
لیکوال: سیدادریس سادات
ترتیب کوونکی: طارق جان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورکوټی خان

## بشکلي طنزونه، او عبرتونه

**لیکوال: سید ادریس سادات**

**ترتیب کوونکی: طارق جان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب پیژندنه

| | |
|---|---|
| نوم. | ورکوټی خان |
| لیکوال. | سید ادریس سادات |
| بڼه. | طنزونه او خندوونکې ټوکې |
| ډیزاین. | طارق جان |
| هدایتکار. | قاري جان |
| د لیکوال شماره. | 0731363201 |
| چینل. | @warkotikhanpr |
| د ورکوټي خان شماره. | 0781177255 |

که چیري تاسې هم غواړئ زموږ ویډیو وګورئ، او په کتاب کې د لینک په خلاصولو کې مشکل لرئ، نو لاندې شمارې ته مسیج وکړئ.

0731363201

SA

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**خپل ګران ملکري ورکوټې خان ته چې په هر ډول سخته کې مې ملاتړ کوي.**

**او د خوشحالۍ په ژوند يې پوره خوشحاله کړي يو!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مړی شوی دی.

ورکوټی خان موبایل کله غوږ ته نیسي، او کله یې مخې ته نیسي.

او له ځانه سره وایې:

دا چشی شو مړا، پوره یو ساعت کیږي،

چې هلک مې لیګلی، او نه راځي خو هلکه پیسې دي، ورنه یې واخله او رازه!

صبر دا راشي، زه به ورسره ګورم، دا وخت طارق راغی.

ورکوټی خان:

دا ته چیرته وې، یو ساعت وشو چې لیګلی مې یې.

ته دې ساعت ته وګوره دا ستا د راتلو وخت دی، پریده مړا شرمول د راخیستي دي.

طارق:

یاره هلته ورته ولاړ وم، پیسې یې نه راکولې دې خوشکي!

نو څه مې کړی وای یار!

دغه دی، سودا مې ورنه پکې راوړه، دا سودا دې ځان سره کور ته یوسه مړا!

پدې زه څه وکم ها ؟

ماته پیسې پکار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طارق:

یاره ماته معاش راکه کور کې راته ماشومان وږي ناست دي.

ورکوټی خان:

ګوره هلکه رازه یوه طریقه باندې درته پیسې پیدا کووم.

ځادر اوار کړي، او طارق پرې څملوي.

ورکوټی خان ورته په ژړا شي، او وایې:

مړی شوی دی، خالي لاس مه تیریږئ، ایماندارو!

ډک لاس تیریږئ، واچوئ ایماندارو!

یو نفر هم راځي، زړه یې پرې خوږیږي.

او پیسې ورکوي، بل هم راځي پیسې ورکوي، ډیرې زیاتې پیسې پیدا کړي.

اخر کې عادل راشي، او دوی پدې خپل چال کې ګیر کړي، ورکوټی خان ورته وایې.

وروره دا سړی مړ شوی وو، نو تا چې راپاڅوو.

پدې کې نو زما څه ګنا ده؟

ویډیو یې له لاندې لینک څخه لیدلای شئ.

https://youtu.be/o2UGGUb6GFE?si=oYd8H_eX24XgwBWu

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه ټوکه!**

**یو ملګري خپل ملګري ته وویل:**

**زه چې کله نیشه وکم بیا نو له هیڅ کس نه یرېږم، د هېچا په کیسه کې نه وم.**

**دې بل ملګري ورته وویل:**

**له میرمنې هم نه یرېږې؟**

**هغه ځواب ورکړ چې والا تر اوسه مې دومره پخه نیشه نه ده کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عاشق دړی!

یوه انجلۍ په لیاره روانه ده، ورکوټی خان د یو کس پر اوږو سپریږي.
بام په سر راخکاره کوي، انجلۍ یې ګوري او وایې:
اوهو دا هلک څومره ښایسته دی.
ماشاالله!
دا وخت شاته کیمره راځي، خلک ګوري چې عادل ورکوټی خان په خپلو اوږو پورته کړی وي.
تر دې وروسته د ورکوټی خان نه د دوکان کارت غورځیږي، قاري له دیواله ښکته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پخپله مخهځي، يو ځای کې عادل او ورکوټی خان کښيني، ورکوټی خان ورته وايې:

یاره عادل فنا!

د همدې خبرې سره ورته ناګهانه زنګ راځي.

یا خدايه خير کړې، خدايه خير!

موبايل راوباسي، دا وخت ورته جينی په خپل ښکلي او نري آواز وايې:

بلی!

ورکوټی خان د ډېرې حيرانی نه غټ ټوپ وهي او موبايل ترې لاندې غورځيږي.

دا وخت عادل ورته وايې:

څه خبره ده؟

ورکوټی خان څه چل وشو؟ قاري ورته وايې:

یاره جينی وه مړه داسې مست آواز يې وو، چې په عليشا يې هم ښپه وراړولې وه سړيه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادل ټوپ وهي او له خندا ترې ژبه بيرون راوځي.

عادل وايې:

ته راکه دا موبايل، عادل چې يې پورته کړي.

دېته هم ووايې:

هلو زړګک مې!

عادل نه هم د غګ په اورېدو سره موبايل لاندې ختا کيږي،

موبايل نه بيټرۍ بيليږي، دا وخت موبايل ګول کيږي.

ورکوټی خان ماته وايې:

ظالمه، په موږ هم خدای مهربانه شو.

عادل د پښتو فلمونو په رقم ډيلاګ کې ورته داسې وايې:

نه ورکوټی خان نه!

دا نشي کيدای چې مونږ به همداسې مجردان ګرځو، او ته

به واده کوې.

دا وخت قاري [ورکوټی خان] عادل په سپيږه وهي، عادل يو

ملاق خوري، قاري حيرانيږي، او وايې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکه د واره مې اوس بخت رابیدار شو.
په یوه سپیږه مې کم ځای ته وغورځولې،
عادل ورکوټې خان که کشره لور یې وه، هغه ماته وګوره خا!
ورکوټې خان!
پاسه مړا خوشکي دې بوټاڼ ته دې خپل کتلي دي، تاته
څوک جنی درکئ، دا خو یې زما حسن او ښکلی قد وکوت،
ځکه یې راته زنګ وواهه!
عادل چوپ شه د دوسرکې ګونګټه، کتلی به یې نه یې نو
چې د دوسرکې ګونګټ یې!
ورکوټې خان ورته وایې:
دا ګونګټ دې، چاته وویل ها، دا خپل ځان ته دې وګوره
لکه د جوارو توکه
دا وخت پدې خبره عادل د قاري سره لاس اچوي.
بیا عادل د جهانګیر پشان دا ډیلاک هم وایې, زه ګورم
ورکوټې خان مام بیګا د جانګیري فلم کتلی دی, په ولاکه
رانه یو قدم هم دا جینی تر کوره یوسې, دا وخت قاري بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپيږه ورکئ.
ورک شه خوشکي لا خو!
ټول مې د يو سر نه په خوشکينو سر دی.
صبر چې دې جينی ته زنګ ووهم, سلام عليکم جان!
وعليکم سلام د سلام نه د قربان شم د سلام نه دې لوګی شم.
مړ مړ يم درپسې, وی جانو ته خو زما زړه يې بس خبره
جوړوه چې نن مازيګر به سره ګورو.
دا وخت ورته عادل راځي هغه هم ورسره کيني څنګه چل
دی ورکوټی صيب ولا ښه چل دې, ته خوشکي بيا راغلې ته
ما مخکې ونه شړلې.
دوی خپلو کې خبرې کوي او وخت تيريږي همداسې
ورکوټی خان کله په يو شي ځان مصروفوي او کله په بل شي
په اخر کې مازديګر شي.
او هغه جينی راشي چې ورکوټی خان وګوري ورته وايې
اوهو ته خو ډير وړوکی سړی يې کنه؟
تا خو مخکې ډير لوړ قد درلود دا ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورکوټی خان قد خو لوړ وو، خو ا ب بت**
**دا وخت ورپورې عادل خاندي او د نن ورځې پارټ په**
**همدې ځاې کې ختمیږي.**
**دا جنی په پوره ویډیو کې له ورکوټی خان نه پیسې وهي!**
**تاسې کولای شئ، چې پوره ویډیو یې د لاندې لینک له**
**طریقه وګورئ، په لینک کلیک وکړئ، او ویډیو وګورئ.**

[https://youtu.be/d-6b2u3O6DE?si=t_bDwBZLVTeYfMq_](https://youtu.be/d-6b2u3O6DE?si=t_bDwBZLVTeYfMq_)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه ټوکه**

**ملګری:**

**یاره پرون مې ولیدې، چې سخت صادقانه کار دې وکړو خپله بټوه، موبایل او د جیب ټول سامان دې سوالګر ته ورکړل؟**

**وایم افرین دې په تا وي.**

**ده په ځواب کې ورته وویل:**

**ډېر مه غږېږه له کچکول یې تومانچه رانیولي وه او ویل یې:**

**د خدای په نامه یو څه راکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مواد ورکئ

ورکوټی خان د سرک پر سر ناست دی موټرونه شماري یو دوه درې یو سل یو یو سل دوه او یو زرو نه نوي.....
دا ځل ورپسې یو کس راځي ورته وایې دا چشی کی ورکوټی خان ولا کاروبار مزدوري نشته څه وکو نو دلته ناست یم دا موټرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمارم.

دوهم نفر له حیرانۍ ټوپ وهي، او ورته وایې:

موټرې شمارې؟

زه درته یو کار خیمه کنه یاره، چاسره یې چې خوار یې.

حکومت اعلان کړی دی، څوک چې ړوند وي هغوی ته ځمکه، پیسې، وړه او غوړي ډیر څه ورکوي.

نو زه خو ړوند نه یمه!

دا نو څه سخته خبره ده, خو تورې چشمې په سترګو کړه.

یوه لښته پیدا که او جالۍ خولې پر سر که, خپله ړوند خکارې او تانه څوک پوښتنه کوي.

بس هغې ځوی دې له ځان سره بوزه ټوله ګټه ده سړیه.

ریشتیا؟

نو دا خو همدا اوس ورځمه, ته دا ونیسه!

تورې عینکې هم په سترګو کړي یوه لښته هم پیدا کړي او وروان شي.

دا وخت افتخار په چوکۍ ناست دی, او د هر نفر له تللو سره وایې اګین ټول نفران نابینا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو ته يې ليټ اچوي او نور ځي، چې په اخر کې د ورکوټي خان نمبر راورسيږي.
ياره وروره ته خو دې دا چشمې لګ لرې کړه؟
چشمې چې لرې کړي او ليټ ورواچوي، نو ګوري چې سترګې يې رکې روغې وي.
افتخار خپل سر وخوځوي، او نور قاري ته ووايې ګوره وروره داسې خبره ده خا چې موږ به تاته په سترګه کې پيچکاري کوو.
ځکه ستا سترګه داسې نه معلوميږي, ورکوټی خان دا څه وايې وروره نو دې سره خو به زه ړوند شم کنه.
نو ته خو اوس ړوند يې کنه نه هڅې خو يم خو نور به هم شم کنه.
دا ستنه مکوه ياره.
خه زه سمه ده، بيا ته داسې وکه کنه چې ماته ووايه چې سمندر څنګه رنګ لري.
شين
خاخا د سمندر رنګ درته معلوم دی او او نابينا يې قاري نه وروره نابينا يم سمندر خو مې په ټيوي کې کتلی وو کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو چې ټیوي ګورې بیا ځنګه نابینا یې قاري نه کنه وروره اصلا زه ټیوي د پړوپوس په سترګو ګورمه.

وروه خفه کیږه مه!

که راته راشن نه راکی صفا ووایه چې درنه ځم.

نه یې درکووم.

قاري زه رنګ دې ورک که، سترګې یې رکې روغې شي، یوه سپیږه یې هم کش کړي، او ورنه روان شي، او ورته په تلو کې وایي:

دا دومره وخت دې هڅې راباندې ځای کړو.

تر اوسه پورې به مې کم از کم تر شپیته زرو پورې موټرونه خو شمارلي وو دې کم عقل زه دلته راولیګلم.

د ویډیو د کتلو لپاره یې په لاندې لینک کلیک وکړئ.

[https://youtu.be/q85Jp4Yo3LE?si=uzG7uG7AsOBuWtnO](https://youtu.be/q85Jp4Yo3LE?si=uzG7uG7AsOBuWtnO)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه ټوکه!**

**میرمنه: که چېرې یو پړانګ په ما او ستا په ادې حمله وکړي کومه یوه بچ کوې؟**

**خاوند: نو ضرور به پړانګ بچ کوم.**

**څلورمه**

**غل کور ته ورواوښت ډېر یې کور ولټولو خو څه په لاس ورنه رغلل، نو سړی یې رابیدار کړو ښه یې وډبولو ورته یې وویل چې میرات شې لږ کار روزګار کوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنارنجانو غل

افتخار راځي، قاري جان له باغ نه میوه شکوي.
دا وخت افتخار ورباندې غږ کوي، ای ماشومیه دېخوا راشه، قاري ورځي ورته وایې؛
وایه وروره څه خبره ده، ماشومه دغه باغ د چا دی؟
دا زما دی کنه،
دا وخت قاري ته ګوري او ټوپ وهي.
څه څه دا ستا باغ دی؟
هو کنه ولې؟
خاخا حاجي صاحب اوس دیته چشی ووایو ولاکه ورته حاجي صاحب نوم برابرېږي یا هم کوم بل نوم!
قاري:
څه خبره ده ورور څنګه د ځان سره پس پس کئ، نه وروره هڅې ما ویل د دې باغ نه اجازت شته وروره، چې یو څه شفتالان یا منې ورنه وشکوو.
هو ولې نه اجازې اجازې دي، شکوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو میوه پکې نه معلومیږي، چې داسې درې څلور نارنجان هم
ترې وشکوو غټ شی دی.
راځه یو کار کوو، ته ما وروچت که، زه به یې درته راوشکووم.
نیمې یې ستا نیمې یې زما که څنګه؟
ورسره یې ومني ښه راځه دغه ښایسته نارنج دي، همدې نه به یې
شروع کړو که څنګه!
هو بلکل افتخار ورکوټی خان ونې ته وخیژوي، دا وخت پرې د
باغ مالک راشي.
د هغوی خبرې واوري افتخار ورنه په منډو شي ورکوټی خان
پاس په ونه کې پاتې شي.
دا وخت عادل شاهد او طارق ترې شاته راروان وي راشي، چې
ګوري ورکوټی خان بره په ونه کې ناست دی.
خوله ورته چینګه کړې ده.
هاخوا دیخوا ګوري، عادل سره لښته وي.
خاخا هغه اصلي غل ته یې ما ویل دا څنګه نارنجان ورځ تر بلې
کمیږي.
نه نه ماما خیر دی بیا به نکووم غلطي وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راکوز شه هله, غوړونه ونیسه شابه نه نه نن دې نه پریدم.
ته نه اصلاح کیږې کنه, آخر کې ورکوټی خان منډه کړې ترې په سبا کمال په لیاره تیریږي.
دا وخت ورته افتخار په مخه ورځي, او ورته وایې;
یاره خبر نه یئ, هغه باغوان ظالم ورکوټی خان نیولی دی په وهلو وهلو یې مړ کړو.
یره راځئ, چې ورنه یې خلاص کړو, چې گوري دا وخت ورکوټی خان یې پخپله خواته راشي، ورته وایې هلکه تاسو دلته چشی کوئ.
دا ځل یې بیا دعوت کړي د نارنجو غلا ته خو ورکوټی خان ورته ووایې نه وروره خفه نشې نه نه ما یو ځل وهل وخوړل خو ډیر په سختۍ یې رزا کړي.
دا ځل بیا باغ ته ورشي, ورکوټی خان ونې ته پورته کوي خو هغه نه ورپورته کیږي او وایې خفه نشئ څه لیونی خو نه یم.
مخکې مو هم یواځې پریخی وم.
دا ځل څادر له نارنجو ډکوي او روانیږي, خو په لاره کې د افتخار پښه له یوې تیږې سره لگیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوخت او راغورځيږي ورکوټی خان پرېي په سر ورختا کيږي.
مالک بيا د دوي اواز اوري او دوي منده وهي داسې منده چې
چيلکې يې په لاسونو کې ننباسلې وي.
او مسير يې نه معلوميږي.
په ويډيو شکل کتلو لپاره يې په لاندې لينک کليک وکړئ.

https://youtu.be/4CrtlWB9GNA?si=01MfDYT_twU-Jhdh

لنډه ټوکه!

ښوونکی: الا زده کوونکيه پاڅه او 55 وليکه
زده کوونکی: خو څنګه يې وليکم
ښوونکی: دوه ځلې پنځه وليکه تنبل خانه
زده کوونکي يو ځل پنځه وليکل او نور غلی شوو،ښونکي
وويل ولې ورته غلی شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکی: ښوونکیه چې دا بل پنځه ښی طرف ولیکم که چپ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټګ سوالګر  ځای باغ

د قاري جان یا ورکوټی خان تورې چشمې په سترګو دي،
یوه لښته یې په لاس کې  ده.
مخې ته یې غټه خولۍ پرته ده، تر څو خلک پکې خیرات
واچوي.
دی داسې وایې:
د الله په نامه اماندارو کومک وکئ، واړه واړه مور او
پلار مې  دي.
سل سل روپۍ واچوئ.
که څوک لږ څه سخي وي، او زرګون ورکئ هم پروا نکئ!
واچوئ اماندارو واچوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه واړه مور او پلار مې دي.

په سترګو مې چشمې دی یو نظر مې کار نکئ ایماندارو

تاسو ته چې څه نښکاري ماته ښکاري.

خبره ترې غلطه شي، ځکه نو یو ټوپ وهي!

تاسو ته چې څه ښکاري ماته

نښکاري.

واړه واړه مور او پلار مې دي.

دا وخت عادل او کمال راځي، کمال قاري ته په خولې

کې پیسې اچوي.

د کمال موبایل ته زنګ راځي.

عادل قاري ته حیران حیران

ګوري ، قاري

ماشاالله ځوانانو ځواني مو خاورې مه شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادل

نه نو ته خو نابینا یې دا تاته څنګه معلومات وشو،

چې مور ځوانان یو؟ قاري جان !! با تا !!

اصلاً وروره زه د پړپوس په سترګو خلک ګورمه!

وا چوئ ایماندارو واړه واړه مور او پلار مې دي.

عادل: ښه سمه ده.

زه په تا څنګه باور وکم، چې ته نابینا یې؟

ورکوټی خان یا قاري:

ته لږ راوړاندې، شه وګوره هاغه مخامخ کونتره درته

ښکاري؟ ښکاري درته کنه؟ اوو، اوو ښکاري هغه ده

کنه!

یقین وکه که ماته ښکاري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هههههه

وا چوئ ایماندارو، واړه واړه مور او پلار مې دي.

تر اوسه کمال چاسره په موبایل مصروفه وو، اوس اخیري خبره کوي.

او ورته وایې، ښه زه سمه ده، دادي درغلو.

کمال موبایل بندوي او عادل په خوشحالۍ انداز وایې رازه هلکه چې کار وشو.

دوي لدې ځایه ځي او دا سین ختمیږي.

دوهم سین:

په دوهم سین کې یوه ښایسته انجلۍ راروانه وي، قاري جان ته کیمره واوړي.

قاري جان په زیر زیر انجلۍ ته ګوري ،تر سترګو جشمې لرې کړي، او له ځانه سره وایې:

د ظالم لور خو داسې په مستۍ سره په سرک روانه ده، لکه د کابل مستې اوبه چې په مستۍ سره پیښور ته روانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه له شونډو سره تاوی راتاوی ،دا وخت د کیمرې لینز شاته دوه نفرو کمال او عادل ته اوړي.

هغوی سر خوځوي او داسې وايې:

هممم نو دا خبره ده ،انجلۍ د ریکشې والا ته ودریږي، او ورته وايې:

هنن دادی درته مې پیسې ماتې کړلې.

د ریکشې والا انجلۍ ته وايې دا واخله خورې دا لسګون دې نه چلیږي.

دا وخت قاري په کلار کلار د انجلۍ وخواته ورځي، او انجلۍ له ریکشه وان سره لانجه کوي.

هغه قاري جان ته لسګون خايې او ورته وايې وګوره دیکې څه مشکل دی.

قاري جان ورته ووايي.

رک روغ دی، واخله ورنه ګنې دا مښوکه درله ورانوم ګوره ، زنانه او نارینه نه پیژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بس لانجې کوئ، دا وګوره وروره دیکې څه خبره ده.

رک روغ لسګون دی، تاسو يي وګورئ، کم ځای پکې شیکدلی دی.

دوی ریکشو والا هم شرموول راخیستي دي.

دا وخت ورته کمال وايې:

وه د خدای بنده خدای ته به څه ځواب ورکئ.

مور درباندې سهار څومره خفه شو، چې دا غریب نابینا دی.

بیا دلته پردو تور سرو ته ګورې، شرم نه درځي.

عادل

نا تاته په کور کې ښځه مور پلار یا وروڼه دې نه وايې چې داکار مکوه؟

دا کار ښه کار ندی، چیرته حلاله مزدوري

وکه ، ولې نه وايې:

نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغوی خبر ندي کنه،

کمال اوس توبه اوباسې که پولیس ته دې په حواله کم.
قاري جان ژاړي، او ورته وایې خیر دی نور نه کووم.
عادل نه نه پولیس ته زنګ ووهه، دی نه سمیږي، هغه بله

ورځ د خلکو د کورونو نه غلا کوله اوس یې دا کار شروع

کو.

قاري
نه کنه زما د پلار او نیکه توبه!
بیا به داسې نه کووم، تاسې دواړو خو زما سترګې روښانه
کړې ،نور زه دا اکار نکووم، خو په اخر کې هغه د دیوال
په سر چې تاسو ته کوتره ښکاري، هغه ګوره ماته نښکاري،
هی شوده ګانو!

هههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویډیو د کتلو لپاره یې په لاندې لینک کلیک وکړئ.

https://youtu.be/c3rAag2MwIw?si=IRySGdumXbHVngrX

**لنډه ټوکه**

**میرمن: سړیه ته دا صندوق راواخله زما لاس نه ورسیږي**

**خاوند: چې لاس دې نه ورسیږي په ژبه یې راواخله هغه اوږده ده.**

**لنډه ټوکه**

**یو هلک غوښتل په شخصي پوهنتون کې داخل شي،له چوکیدار یې وپوښتل چې ماما څنګه پوهنتون دی؟**

**چوکیدار په ځواب کې ورته وویل والا ښه پوهنتون دی زه هم ترې فارغ یم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرکټ

یره عثمانه خبر نه

يې؟

نه!

یره پرون مې په پیسبوک کې کریم جنت درته ښه سم برابر کو.

پریده چې نن ښه لوبه

وکي! عادل

پآسه مړا خیرن اسپنجه تم د خبرو شوې، دې مښوکې ته دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وگوره مړا که چا درته یو پوکی درکو کنه یو پوکي سره به په هوا کې مارغانو تس نس کړی یې.

پاسه د خوشې ځویه!

قاري

چاته وی، نه تا ماته خیرن اسپنج وویلې ها؟

عادل اوو تاته مې اویلې ولې څه وی، زه زه مړا دې بوټاڼ ته دې کټلې دي.

ته هم راپاسیږې، لوبغاړو پسې خبرې کوې.

دوی دواړه سره لاس اچوي.

دا وخت خلک راځي، ددوی جنګ خلاصوي، قاري وایې: ته مې ورته پریږده.

کمال ورته وایې:

ښه ځه ورځه ورته مې پریښودې، قاري مخ غونجې کوي، ګپ مې لګو مړا، ته د دې قد ته وګوره او زما قد ته وګوره ما او دا چیرته سره جنګ کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت کمال وایې:

راځئ که دومره تکړه یاست چې میچ ولګو، زه دوه دوه زره روپۍ میچ شو.

سبا دې ته هم خپل ټیم راوله ورکوټی خان به یې هم راولي.

دواړه لوري وایې ماته منظوره ده.

په سبا ورکوټی خان په میدان کې ولاړ دی پښې یې لړزیږي.

بال ورخوشې کیږي، ورکوټی خان سترګې پټوي او بال سیده شپړیزه کیږي.

په دوهم ځل لوبې ته کمال ودریږي، هغه په لومړي ځل اوټیږي.

عادل راوځي، قاري جان له عادل سره لاس تاووي، راتاووي ،مطلب کله یو خوا تاو شي او کله بل خوا خو بال نکی اخر بال وکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادل هم پرې ښه غټه شپړیزه ووهي.
دا وخت قاري په میدان کې منډې وهي اخر

راوغورځیږي، دا وخت قاري ته کمال ووایې:

ای باتوره٬
همدومره زور دې وو، پخپله خو دې باد په میدان کې نه
ټینګیږي.
او په ملي لوبغاړو پسې خبرې کوې، هر نفر راځي، او
ووایې:
ما خو خالي د درې څلورو کسانو خبرې واوریدې له
ژونده مې زړه تور شو، کریم جنت چې د ټول وطن د
خلکو خبرې اوریدلي دي.
څه حالت به یې وي.
وطنه پخپله جوړ شه، مونږ په کریم جنت پسې خبرې کو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ا**

**ا**

**گ**

**نا**

**ع**

**ا**

**د**

**ل**

**:**

**هههههههه**

**د دې ویډیو د کتلو لپاره په لاندې لینک کلیک وکړئ.**

**https://youtu.be/8L3QlbpxUXU?si=tYuUVthGQTpwQVx_**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه ټوکه!

هلک او انجلۍ یو ریسټورانټ ته لاړل،د ډوډۍ خوړلو په وخت کې هلک په عاجزانه ډول انجلۍ ته وویل غواړم تاته یوه خبره وکړم،انجلۍ په وېره ځواب ورکړ ووایه څه وایې،هلک وویل زه ښځه او زامن لرم،انجلۍ ځواب ورکړ ته تباه شې زړه دې رانه وایستو ما ویل که د ډوډۍ پیسې نه لرې.

لنډه ټوکه

ډاکټر: ستا د میرمنې درې غاښونه په پنځلس سوه اوباسم.

خاوند: ډاکټر صاحب چې د ژبې سره به څومره شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه ټوکه!

میلمه د کور له کوچني ماشوم پوښتنه وکړه، چې ډوډۍ کله خورئ؟

ماشوم ورته وویل:

مور مې وایي، کله چې میلمه لاړ شي بیا بې وخورو.

که چیرې تاسې ته کومه ویډیو نه خلاصوي، نو ماته په لاندې شماره واټساپ کې مسیج وکړئ، تر څو مشکل مو حل کړم.

0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**